# POETIC VARIETIES IN THE POETRY OF IQBAL NASEEM KHATTAK

# د پروفېسر ډاکټر اقبال نسيم خټک په شاعرۍ کښې موضوعاتي تنوع

Gul Zameen*
Professor Dr Rooh Ullah**

**Abstract:**

Iqbal Naseem khattak is a well-known poet and scholar of Pashto literature and language. He played a prominent role in the field of research. To add more to the aforementioned literary figure, he is the person who wrote poetry. Moreover, his work is in the field of translation. However, his contribution in the areas of literary journalism and fiction. Satire and humors cannot be undermined. He is held in the esteem till date due his unforgettable works. Here we study his poetic contribution and try to explore this aspect of his work because other than writer, he was also a poet, his poetry incorporates all those qualities that is a sign of good poet.

**Keywords**: Romanticism, Humanism, Pashtun culture, Islamic values, Spiritualism.

اقبال نسيم خټک چې د پښتو ادب په هغه استاذانو کښې ګڼلے شي چا چې ټول عمر د دې ژبې او ادب په تحقيقي او تنقيدي ونډه کښې خپل کردار لوبولے دے. دې سره سره که د ګوتو په شمېر هغه خوشحال پوهان مونږه په نظر کښې وساتو چا چې په خوشحال خان خټک يا د خټکو په کورنۍ باندې کار کړے دے نو په دغو کښې هم مونږه اقبال نسيم خټک ته يواځې خوشحال شناس نۀ شو وئيلے بلکې پوره خټک شناس ورته وئيلے شو. هغۀ د دې هر څۀ سره سره په افسانوي ادب، طنز او مزاح، ترجمه نګاري، صحافت او سفرنامه باندې هم کار کړے دے او دغسې تر ننه پورې د ستر شخصيت پېژندګلو هم په دغو حوالو کېږي. ولې دلته ئې نن مونږه په شعري محاسنو باندې کار کوو او د هغۀ دغه اړخ راڅرګندوۀ څکه چې د هر څۀ سره سره هغه يو شاعر هم وۀ چې په شاعرۍ کښې ئې هر هغه څۀ ښکاره وي چې د يو ښۀ تخليق کار نخښه وي.

## اسلامي اقدار

د انسان د سوچ بنيادي درې نقطې دي يوه دا چې زۀ څوک يم او څۀ له پيدا يم، دوېم دا چې دا

* PhD scholar Department of Pashto University of Peshawar
** Professor Department of Pashto University of Peshawar

کائنات څۀ دے او څنګه په وجود کښې راغلے دے، دریم دا چې خدائے څوک دے یا دا تصور ما د پاره څومره اهمیت لري - که چرې وکتې شي نو دا درې فکري ډګرونه په یوه نۀ یوه حواله باندې د مذهب موتاځه کیږې - یعنې د خدائے یا د خدائے په نظام فکر کول په خپله د یو مذهب د وجودمظهر ګرځي -

دلته د اقبال نسیم ختک په کلام کښې د اسلامي اقدارو لټولو نه وړاندې باید چې اسلامي اقدار په لنډو ټکو کښې وپېژندلے شي - اقدار د قدر جمع ده یعنې هر هغه عمل یا ضابطه چې یوه ټولنه کښې مرکزي کردار او حیثیت لري او په اسلامي ټولنه کښې اسلامي اقدارو نه مراد عقیده توحید، عقیده رسالت او عقیده اخرت دي - نسیم ختک صیب وائي چې:

د تیارو ځیګر پاره شو نمر ښکاره شو
زیړے خور شو په جهان چې رڼا راغله[1]

څنګه چې په دې شعر کښې نسیم ختک د عقیده رسالت خبره کوي دغسې په یو بل شعر کښې وائي چې:

چې د حبیب صلی الله علیه وسلم مبارک نوم ئې په کاغذ ولیکه
په عقیده سره ما هغه قلمونه ښکل کړل[2]

اقبال نسیم چې هر کله د ختم نبوت اظهار او د سردار دوعالم حضرت محمد صلی الله علیه وسلم سره د مینې اظهار کوي نو حقیقت کښې مینه ئې یو په دوه شي وائي چې

تۀ په واړه انبیاؤ کښې سرور ئې
انبیاء دي واړه ستوري تۀ قمر ئې
جهانونه واړه ستا په روے پیدا دي
ئې له هر چا مقدم که مؤخر ئې[3]

## پښتني اخلاق

" د خلق جمع اخلاق ده، د اخلاقو میدان دومره وسیع و غریض دے چې ،ځکه چې اخـلاق نـوم دے د تعلقاتو او معاملاتو"[4]

د اخلاقو په اړه حضور صلی الله علیه وسلم د فرمان مفهوم دےچې

"مسلمانو کښې کامل ایمان د هغه چا دے چې د چا اخلاق د ټولو نه غوره دے"[5]

اخلاق په اصل کښې انساني کړۀ وړۀ ته وئيلے شي - هر هغه خيال چې د دۀ په ذهن کښې راځي او دے هغې ته ترتيب ورکوي هغه د اخلاقو په زمره کښې راځي - د اخلاقياتو په علم باندې يو شمېر ليکنې شوې دي - په اول اول کښې اخلاقيات څۀ دي غوندې سوال په يونان کښې د خپل فلسفيانه جلال سره راڅرګند شو - که مونږ د يونان کلاسيک علوم ولولو نو په کثرت سره پکښې دغه اخلاقيات په لاس راځي -

اخلاق د پښتني ژوند د تېرولو د پاره د پنځو زره کلونو راهسې غوره طريقه بولي - پښتونولي تهذيب هم دے او ثقافت هم دے - دود هم دے او دستور هم دے - بلکې که په دې کښې دننه قائدې او ضابطې مونږه وڅېړو نو دې نتيجې ته هم رسو چې بائد پښتونولي يو وخت مذهب هم پاتے شوے وي - مونږ ته داسې تاريخي هېڅ دليل په لاس نه راځي چې مونږه پرې په کلکه دا ووايو چې د اسلام نه مخکښې د پښتون دين شکل څۀ و خو ولې بيا هم دا روايت څۀ نه څۀ داسې دليل ورکوي چې کله پښتنو د اسلام مقدسه دين اختيار وو نو د اسلام او د پښتو د مشابهت په وجه شائد دې خلقو اسلام ته په ګډه توجو کړې ده - غوره اخلاق د انسانيت غوره نمونه ده، ښۀ او غوره اخلاق يو داسې طاقت دے چې په هره ټولنه کښې که هغه د مسلمانانو ټولنه وي او که غېر مسلمان ټولنه ده مګر ښۀ او غوره اخلاق انسان ته په هره ټولنه کښې سر لوړے او لاس برے ورکوي -

دلته به مونږ د هغۀ په شاعرۍ کښې د پښتني اخلاقو تذکره کوؤ، د کومو ذکر چې نسيم خټک په خپله شاعرۍ کښې ډېر کړے دے - دلته دا يو شعر چې

خپل شي پردي، پردي خپلېږي خو نه
غوښه د نوک نه جدا کېږي خو نه[6]

د لته که يو طرف ته نسيم خټک د پښتنو په ټولنه کښې د روزمره په بنياد وئېلے کېدونکې دوه محاورې يعني "پردي نۀ خپلېدل" او "غوښه د نوک نه نۀ جدا کېدل" ډېر په کمال فن سره استعمال کړي دي، ولې بل طرف ته د پښتني اخلاقو ذکر هم ډېر په عام فهمه لهجه کښې وړاندې کوي، مثلاً پښتانۀ متل کوي چې " خپل خپل او پردي په ډېرو نعرو خپل "

يا لکه په دويمه مصرعه کښې هم د پښتني اخلاقو ذکر کېږي چې غوښه د نوک نه نۀ جدا کېږي يعني خپل نۀ پردي کېږي-

د پښتني اخلاقو په اړه نسيم خټک ډېرې تذکرې د خپلې شاعرۍ ښکلا جوړه کړې ده

دلته د پښتني اخلاق د اولس د خدمت کولو په اړه نسیم خټک وائي چې

زۀ خـــدمت بـه د اولس کـړم هـم د ویښو د اودو هم
دغـه ژوند ډېـر پائدار دے دا اواز مې د ضمیر دے[7]

که دې شعر ته یو سنجیده قاري په ځیر شي نو ښکاره خبره ده چې د نسیم خټک په ذات او بیا د خپل ذات اندرون کښې بې لالچې به د پښتون اولس د پاره په ډاګه شي یعني د اولس خدمت کول د ویښو او هم د اودو، او بیا ذکر کوي چې دغه د ضمیر اواز دے،

دا خبره به بې ځایه نۀ وي چې پښتون ټول هغه اخلاق خپلوي د کومو اخلاقو درس چې مونږ ته اسلام راکوي یعني پښتنه ټولنه کښې سوچه او غوره اخلاق هغه اخلاق ګڼلے شي د کومو درس چې اسلام ورکوي۔

پښتون د مزاج نه ساده او مینه ناک دے، خپل ټول عمر به په خوارۍ محنت او مشقت کښې تیروي ولې هر کله چې د بل پښتون ورور د خدمت یا کومک نېولو وخت راشي نو دا که هر څو پخپله د بل مزدور او نوکر وي لیکن د خپل ورور خدمت ته بیا دهر قسم ملا تړلو د پاره تابعدار وي، دا د پښتون په مزاج کښې اخکلې شوې خبره ده، پښتون د مزاج نه دومره ساده او ایغ نېغ وي چې که معامله د عشق ولې نه وي چرته چې هر زغم د عاشق په غاړه وي،دا شعرونه د خلوص او سادګۍ نه ډک منظر پېش کوي۔

زۀ سـاده خـپـل په کـړت پـړت نـه پـوهېږم
تـۀ چـرتـه بـل څـوک خـریـدار لټـوه
زۀ اخـلاصـي یـم لـباسـي نـه یـمه
خـپـل ځـان تـه ګـوره هسـې یـار لټوه[8]

هـغـه چـینې شته، نـۀ ګودر شته، نـه زرین مـازیګر
اوس په دې سیمه کښې د ژوند څۀ اثر پاتې نه دے[9]

دا ټول هغه پښتني اقدار دي د کومو ذکر چې نسیم خټک په خپل کلام کښې ډېر زیات او په خوند سره کړے دے - چې له کبله ئې د نسیم خټک شاعرۍ د پښتون اولس ترجمانۍ ځاے نیولے دے - لنډه دا چې نسیم خټک د پښتي اقدارو ستائینه په شعوري ډول دومره په هنرمندۍ سره کړې ده، چې د شاعرۍ لویه برخه ئې د پښتني اقدارو هنداره ده،

خوشحال بابا وائي چې

شــعـر کـــار د هـــر فـــاسق او فـــاجـــر نـــه دے
نـــهٔ د هـــــر يـــوهٔ وړبـــــسترګــي او کـــنګال
شـــعـر کـــار يـــا د ســالـک يـا د مـــلک دے
د عـــــاشق دے د دړمــــــند دے د ابــــدال[10]

دا خبره اظهر من شمس ده چې شعر ليکل او بيا په حقيقت ښکاره کول د هر چا يا د هر شاعر د وس خبره نه ده، ځکه چې شعر ليکل که يوه خوا زخمي زړهٔ او جوت احساس تقاضه کوي نو بل پلو د جذبې شدت، ژوره مطالعه او خصوصاً د خپل قام او خاورې سره سپين او خوږ عشق هم غواړي چې له کبله ئې د خپل قام په غم لړلې او زړه پورې شاعري پيدا کېږي، هم دغه وجه ده چې د نسيم خټک شاعرۍ کښې د درد سره سره د خپل قام د پښتني اقدارو پرله پسې ستائينه ذمه واري جوړه شوې ده - د " راز خبرې په کاغذ" د نسيم خټک د شاعرۍ مجموعه ده په کومې کښې چې يو شمير شعرونه د پښتني اقدارو هنداره شعرونه ګڼلے کېږي، چې په هغې کښې د پښتني اقدارو هر اړخيز تصوير وړاندې شوے دے -

**شرف انسانيت:-**

د دردمـــــند ســـترګـــې لـــونـدې ليـدلے نه شم
د مـــظلوم په اوښـــکـو تــــر زمــــا اســـتين کــړه
چــې مــې فـــکر د زخـــمي زړونـــــو مـــلهم شـــي
د قــــلـم تــــوري مــــې واړه تـــــه مشـــکين کــړه[11]

د انسانيت د بقا فکر، د انسانيت د دروندوالي، د ښېګړې او په چاپېرچل کښې د عزت او تکريم فکرمندۍ ته شرف انسانيت وئيلے کېږي، د کومو توکو فکري او عملي لار چې اقبال نسيم خټک خپله کړې ده، لکه په وړاندې شعرونو کښې چې د دردمندو سترګو ذکر ، د مظلوم د اوښکو ذکر دغه شان زخمي زړونو لره ملهم کېدل وغېره دا ټول هغه توري دي چې خپله معنٰی د انسانيت او شرافت په تقاضو کښې وړاندې کوي، په دې تناظر کښې د نسيم خټک دا شعر چې

دم قـــدم په احـــــتيـــاط بــــويـــه نسيم
هســې نـــــه درنــــه بــــې وجــې څــوک ازار شـي[12]

يعني ځاے په ځاے نسيم خټک د انسانيت د غوره والي خبره کړې ده، انسان ته ئې دروند

نظر کړې دے، او په اصل کښې هم دغه شرف انسانيت بللے کېږي، ځکه چې انسان ته د شرافت تاج الله پاک ورکړے دے، لکه چې فرمائي

" لَقَد خَلَقنا الاِنسَانَ فِی اَحسَنِ تَقوِیم[13] "

ژباړه:-بې شکه مونږ انسان په ښکلي شکل پېدا کړے دے -

**رومانيت:**

رومانيت چې په انګريزۍ ورته Romans يا Romanticism وائي په حقيقت کښې يو منفرده، زړه راښکونکې او د ماضي جذبې رالږځونکې احساس او طرز فکر نامه ده، بله خبره دا چې رومانيت پالنه د هر ليکوال او شاعر د وس خبره هم نه ده، ځکه چې رومانيت ليونۍ مينه او سوچه جذبه غواړي- هسې خو د رومانيت اظهار ډېر خلق دعوىٰ ګير وي ولې رومانيت د اندرون صداقت او د اظهار لا پرواه ژبه غواړي،

"رومانيت د يو داسې طرز احساس په توګه مخې ته راځي چې د مينې، ازادۍ او د انسان دوستۍ خيالاتو ته وده ورکوي، او په ټولنيز بدلون کښې يو انقلابي او تاريخي کردار ادا کوي-"[14]

د ژے ژاک روسو په دې وړه خبره کښې ډېره لويه فلسفه پرته ده - انسان فطرت ازاد زېږولے دے خو چې کله معاشرې او مذهب ته رادننه شوے دے نو ذهني غلام ګرځېدلے دے- هم د روسو دغه نظريه وه چې د فرانس اولس ئې د ذهني غلامۍ نه ازاد کړو او په اتلسمه صدۍ کښې انقلاب فرانس په وجود کښې راغے - د روسو د هم دغسې ليکونو نه د فرانس او د برطانئې د هرې طبقې سره تعلق لرونکو خلقو اثر واخستو - خو کوم اثر چې فلسفيانو او شاعرانو واخستو هم د دهغې په وجه د روسو دغه فکر د دنيا په ګوټ ګوټ کښې ژوندے دے - په دغه شاعرانو کښې بائرن ، شيلے، ورډ ورزت، او جان کيټس د ستائنې وړ دي - دغۀ شاعرانو په شاعرۍ کښې د زړو رواياتو نه بغاوت وکړۀ - د کلاسيزم په ضد ئې ليکونه شروع کړل- چې د يو تحريک په ډول مخ په وړاندے روان شول- او ورستو دغه تحريک د رومان ټېسزم په نامه وګرځېدۀ - دلته که د رومانيت دغه تعريف په ژور نظر وځيرلے شي نو حقيقت دا دے چې دا د رومانيت يو جامع او هر اړخيز تعريف دے، د رومانيت تحريک شروع د يورپ نه شوې وه - چې دا د کلاسيکيت په ضد کښې راپورته شوې وو - د دې پلويانو د کلاسيکل شاعرۍ نه انحراف وکړو - ځکه چې د کلاسيک بنياد په عقل ، فکر ، استدلال او منطق باندې وي - او د دې په ترڅ د رومانيت بنياد په تخيل او جذبه باندې وي - د دې ټول بحث نه دا معلومېږي چې د

رومانیت نه مراد په ادب کښې ازادي ده - څنګه چې وړاندې ذکر وشولو چې د رومانیت شروع په یورپ کښې وشوه خو د دغې اثر په ټوله نړۍ وشولو چې پښتو ادب هم ترې اثرات خپل کړل - او په روماني طرز کښې شاعرانو ادیبانو هم خپل کلامونه لیکل شروع کړل -

خو له بدقسمتۍ نه دلته ډېر کم خلق د دې په معنی او اصطلاح پوهېږي - رومانیت خو صرف دا نۀ دے چې ګني صرف په کوم کلام کښې د مینې او محبت تذکره شوې وي نو بس هم دغه به روماني یا رومانټک شاعري وي او که د دې نه لږ هم اخوا دېخوا وي نو بیا به دا روماني نۀ وي - داسې بلکل نۀ ده بلکې په دې کښې د خیال آزادي ده او هر قسم خیال پکښې په لفظونو کښې بغېر د څۀ قېدوبند بیانؤلے شي -

خوشحال بابا په خپل یو شعر کښې وائي

زۀ خوشحال کمزورے نۀ یم چې به ډار کړم
په ښکاره نعرې وهم چې خوله ئې راکړه [15]

که هر څو په تاریخي حواله د رومانیت شروع د اتلسمې صدۍ په وروستۍ زمانه کښې شوې وي خو خوشحال بابا د دې نه څو کاله وړاندې په خپل کلام کښې د رومانیت باقاعده اعلان کړے وو - په پورته شعر کښې معلومېږي چې د خوشحال بابا په تخیل کښې چې څنګ مضمون راغلے بې د څه کمې بیشي ئې ښۀ په آزادۍ او بې باکۍ بیان کړے دے. ځکه چې د رومانیت دا خاصه ده چې د تخیل مکمله آزادي او د روایت پسندۍ نه ځان ژغورنه - د اقبال نسیم خټک په شاعرۍ کښې که یو خوا مقصدیت، روحانیت، شرف انسانیت، پښتني اقدار او اسلامي اقدار د دۀ د کلام غټ موضوعات دي نو بلخوا ئې د رومانیت نه هم انکار کول د نمر په ګوته پټولو په مصداق دے - دنسیم خټک داشعرچې درومانیت انځورګري یې کړې -

نۀ لګي بدرنګ سرے مې نه لګي
ښکلے که هر څوک وي په ما ښه لګي [16]

## مقصدیت:-

د مقصدیت نه مراد مقصد یا مقصدي خبره کول دي، یعني داسې یو کار یا خبره راوړل چې په شا ئې یو خاص مقصد یا غرض ښه لري، دې ته مقصدیت وائي - بل اړخ ته په کلام یا شاعرۍ کښې د کار او بنیادي خبرې زیر بحث راوړل هم د شاعرۍ افاقیت او اصطلاحاً مقصدیت ګڼلے شي، په دې اړه به دلته د نسیم خټک د شاعرۍ نه د مثال په توګه د

مقصدیت شعرونه په حواله کښې راوړلے شي مثلاً

یـــوه معجره وه ګـنـي عـقـل خـو حـیـران دے ورته
پـه خـالـي لاس ګـوره څوک خپل حق هم غوښتلے نشي[17]

دلته که مونږ په دې شعر غور وکړو نو سپینه خبره ده چې نسیم خټک یو مقصدي خبرې ته د خپل قام پام راګرځوي او هغوي ته په دې اړه یو قسم پیغور ورکوي یا هغوي په دې غیرت کښې راوستل غواړي چې د خپل حق غوښتنه په هر حال کښې کول ضروري او مقصدي وي -

ګـــــل هـــــم پکـــارېږي هــــم اغــــزي نـسـیم
ژونـــــــد کـښـــــې هـم خـــواږهٔ او هم تراخه لګي[18]

دلته که مونږ وګورو په هره حواله نسیم خټک یو غوره او معتدله خبره کوي او وائي چې ژوند د خواږو او تراخو دواړو مجموعه ده، یعني ژوند صرف اوصرف د خواږو نامه نه ده، بلکې تراخه هم د ژوند نېغ په نېغه برخه ده، مقصد داجوړېږي چې د خپلو نه علاوه پردي هم پکارېږي او هغوي ته هم قدرو قیمت ورکول پکار دي، په دې صورت چې هغوي هم انسانان دي -

یو بل ځاے کښې نسیم خټک د ژوند فلسفه څهٔ په دې ډول وړاندې کړې ده، چې

ښـــــه رویـــــــه د ښـــــهٔ کــــــردار نـــــوم دے
ژونـــــــد دحــــــرکت، حـــــرکت د کــــار نــوم دد ے[19]

یعني ژوند په حقیقت کښې د کار نوم دے - ځکه چې هر څومره قیمتي انسان خوچې حرکت نهٔ کوي نو دا علامت د ژوند نهٔ دے بلکې دا تضاد د ژوند دے، یعني په نورو خبرو کښې که هر څومره قیمتي څیز وي خو ترڅو که دغه څیز پکارولے نشي نو داڅیز د کار نشي ګڼلے کېدے، بلکې چې کله دا پکار راغے نو دا د کار شو، په لنډو ټکو هم دغه فلسفه نسیم خټک وړاندې کوي او وائي چې ژوند د حرکت نوم دے - یعني که سړے ژوند کول غواړي او شتمن کول غواړي نو حرکت به شرط وي، ګني بیا ژوند ژوند نهٔ بلکې تضاد د ژوند دے -

روحانیت

که غور وکړو نو د هر انسان وجود د دوه قسمه عناصرو نه راجوړ وي، مثلاً یو مادي وجود دے د کوم ضرورتونه چې د زمکې نه پوره کولے شي د رزق په صورت کښې، ولې بل طرف ته د روح غزا د اسمان څخه پوره کولے شي، او دا حقیقت هم اظهر من شمس دے چې په زمکه پېدا د هر قوم بچے که د هر مسلک او مذهب سره تعلق لري، ولې د خپل روح د تسکین په

خاطر د څۀ نه څۀ عبادت لار اختیاروي، په دې صورت کښې مسلمان هم د روح د تسکین په خاطر روحاني تذکرې او عبادتونه کوي - په دې اړه حدیث شریف دے چې مفهوم ئې څه داسې دے -

" بې شکه په ذکر د الله سره روح ته تسکین مېلاوې " نسیم خټک وائي چې

دم قـــــدم په احـتـیاط بویــــــه نسیمه
هســــــې نــــــۀ درنــــه بـــې وجې ځوک ازار شي[20]

" هسې نۀ درنه بې وجې ځوک ازار شي " نو د دې نه مراد دا دے انسان ته د چا په بې وجې ازارولو څۀ تکلیف رسي، یعني هر کله چې ته یو انسان بغېر د څۀ وجې ازار کړې ، نو تاته به روحاني طور عذاب مېلاوېږي، او روحاني طور بې سکونه ئې، ګني وجود ته خو هېڅ قسم تکلیف نه محسوسېږي، لنډه دا چې د انسان روح ته تکلیف رسي، کومه خبره چې مونږ ته اسلامي تعلیمات هم راکوي چې د انسان وجود ته نۀ بلکې روح ته به سزا او جزا میلاوېږي - اقبال نسیم خټک هم دغه فلسفه ځائے په ځائے د خپلې شاعرۍ برخه ګرځولې ده -

# References


1) Khatak, prof,m. Iqbal Naseem,Dr, Da Raz Khabarai pa kaghaz University Publishers, Peekhawar, March 2020 Makh 8.
2) Hum dagha asar makh 9.
3) Hum dagha asar makh 14’15
4) Shadan wazir, Dr,Dr Banaras khan,da iqbal naseem khatak kar o ziyar,Araf prenters ,Mahalla jangi,pekhawar,Mashmula maqala,prof, Fazal meer khatak,April 2017 makh 246.
5) Hum dagha asar makh 247
6) Da raz khabarai pa kaghaz makh 79.
7) Hum dagha asar 78.
8) Hum dagha asar makh 93.
9) Hum dagha asar makh 148.
10) Kulyat khushal khan khatak,Muqadima,Dr yar Muhammad maghmum khatak University book Agency pekhawar, makh 291.
11) Da raz khabarai pa kaghaz makh 1, 2.
12) Hum dagha asar makh 45.
13) Al quran,Alteen,Ayat 4.
14) Shadan,wazir,Dr da raz khabarai pa kaghaz makh 255.
15) Kulyat khushal khan khatak makh 421
16) Da raz khabarai pa kaghaz makh 129.
17) Hum dagha asar makh 53.
18) Hum dagha asar makh 129.
19) Hum dagha asar makh 180.
20) Hum dagha asar makh 45.